آصف بهاند ۲۰۱۷/۰۵/۲۳

# که يې ګورې راشه!

زړه مې په اور آليل کيږي

ته يې وينې که نه؟

که دې زړګی دې ننداری ته خوشاليږي

که يې ګورې راشه!

اوښکې يې اور باندې ښخيږي

که يې شميرې

که يې ګورې راشه!

په هره اوښکه کې د تا د مينې نښې خاندي

پر اور چې لويږي

اور تيزيږي

که يې ګورې راشه!

زما د ژوند د ستيژ د پاسه ډرامه روانه

دی ننداری کی

څوک ژړيږي

څوک خنديږي

که يې ګورې راشه!

ډرام ژړا باندې پیل شوی، په خندا کې روان

دا دی ژړيږم او خنديږم

که يې ګورې راشه!



۲۰۱۴/۰۷/۱۱
هيدرسليف
ډنمارک



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ